# د درملني ملاتړ

د کچې لوړولو اداری (لیفلینګ آپ)، کور تهیه کولو اداری (هاوسینګ) او ټولنو لپاره اداری لخوا، مونږ کولای شو د 21 کالو څخه کم عمر ماشومانو او تنکي ځوانانو او همدارنګه د دوی مور او پلار / پالونکي (مراقیت کوونکی)، چې په انګلستان کې ژوند کوئ یا مقیم دی او د اوکراین او افغانستان اړوند دی وړیا معالجوي او د درملنی ملاتړ وړاندې کوو.



**د نورو معلوماتو لپاره زمونږ د کډوالو د کورنۍ د مرستې خط سره اړیکه ونیسئ**

**0808 156 9877**

**RefugeeFamilyHelpline@barnardos.org.uk**

زمونږ لاینونه دوشنبه – جمعه (10am - 8pm) او شنبه (10am - 3pm) فعال وی

متخصصین کولای شي زمونږ د ویب پاڼې له لارې راجع کولای شی

**helpline.barnardos.org.uk**

Funded by
UK Government

BARNARDO'S
Changing childhoods.
Changing lives.

# درملنه څه شی دی؟

## په کومو حالاتو کې زمونږ د درملنې خدمتونه ستاسو سره مرسته کولای شي:

زمونږ معالج به تاسو ته غوږ ونیسي او ستاسو احساسات او تجربې په خونديِ ځای کې واورى ، پرته د کوم قضاوت له ویره څخه. دا ستاسی لپاره یو ښه فرصت دی چې د کومې ستونزې یا ګړاو په اړه له مونږ بحث وکړئ او له مونږ سره یې شریک کړی چې تاسو یې تجربهٔ کوئ یا په تیرو کې تجربه کړې وی.

مشوره ورکول تاسو سره مرسته کولای شي هغه شیان ومني چې تاسو یې نشي بدلولای او تاسو سره د ممکنه بدلونونو په راوستلو کې مرسته کوي.

مونږ به تاسو ته د معالج سره د درملنې 8 ناستې وړاندې کړو. هره ناسته یا ملاقات به کابو 45 دقیقې وی. زمونږ دا ملاقات به مجازی ( د ټلیفونی مکالمی یا ویدویو تماس په طریقه) وی. مونږ 90 معالجان لرو چی تر40 زیاتو ژبو ویونکی دی.

## د معالج د درملنی ته څنګه لاسرسی کولای شی:

که تاسی د معالجې یا درملنی ملاتړ غوښتونکی یاست، تاسی زمونږ دی **08081569877** شمیری ته تماس نیولی شی او همدارنګه زمونږ **RefugeeFamilyHelpline@barnardos.org.uk**

په داسې حال کې چې تاسو به زمونږ د درملنې ټیم لخوا تر ملاتړ لاندی وی، تاسو کولای شئ زمونږ د مرستو خط مشاورینو سره تماس ته دوام ورکړئ هغهٔ به تاسو ته د إضافي مرستې وړاندیز کولو لپاره خوشحاله وي چې تاسو ورته اړتیا لرئ.

ستاسو د موافقې سره سم زمونږ د اړیکو او مرستی مشاور به تاسو زمونږ د درملنې ملاتړ خدمت ته راجع کړي

بیا به معالج له تاسو سره په راتلونکي 2-4 اونیو کې په یوه مناسبه نیټه او وخت کې اړیکه ونیسي چې ستاسو لپاره د درملنې ناستې یا ملاقات پیل کولو لپاره مناسب وي.

کله چې تاسو زمونږ د شمیری سره اړیکه ونیسئ زمونږ مشاورین به ستاسو خبری واوری ترڅو ستاسو د وضعیت په اړه نور معلومات باندی پوهه شی ترڅو پریکړه وکړي چې تاسو کوم ډول ملاتړ او مشورې ته اړتیا لرئ.

## زه به څنګه پوهه شم چی زه د درملنی ملاتړ ته اړتیا لرم؟

که تاسو د خسته والی، یوازیتوب، نا امیدی احساس کوئ، داسې احساس کوئ چې تاسو یو چا ته اړتیا لرئ چې خبرې ورسره وکړي یا تاسو ته غوږ ونیسي، نو درملنهٔ ممکن ستاسو لپاره وي.

مونږ کولای شو د 21 کالو او کم عمر ماشومانو او ځوانانو ملاتړ وکړو، همدارنګه د دوی والدین، پالونکي چې په انګلستان کې په

لاندي سکیمونو کې میشت شوي دي؛ د اوکراین سکیم لپاره کورونه ( د هومز فار اکراین سکیم)، د اوکراین کورنی سکیم (اکراین فامیلی سکیم)، د اوکراین د تمدید سکیم (اکراین ایکستینشن سکیم)، د افغان تابعیت لرونکو د بیا میشتیدنی سکیم (افغان ستیزن ریستیلمینت سکیم) 1،2 او 3 برخې.
د افغانانو د ځای پرځای کولو او مرستې پالیسي

Funded by
UK Government

Changing childhoods.
Changing lives.